شريعت

ورځپاڼه

د افغانستان اسلامي امارت مرکزي نشراتي ارګان

قطر؛ هڅه کوو افغانستان او نړيواله ټولنه سره نږدې کړو

په کابل کې د قطر دولت سفير ډاکټر مردف القاشوطي، د افغانستان اسلامي امارت د بهرنيو چارو له وزير مولوي اميرخان متقي سره کتلي. په دې ليدنه کې د افغانستان او قطر ترمنځ د دوه اړخيزو اړيکو د لا پراختيا ترڅنګ، د ګډو ګټو اړوند پر يو شمېر سيمه‌ييزو موضوعاتو هم

د نظر تبادله وشوه. ښاغلي متقي د افغانستان او قطر اړيکې مثبتې او مخ پر ودې وبللې او د افغانستان د اسلامي امارت او نړيوالې ټولنې ترمنځ د تعامل او اړيکو د پراختيا په برخه کې يې د قطر د رغنده رول او دوامدارو هڅو ستاينه وکړه. د قطر دولت سفير هم د خپل ...۳مخ

د تأسيس کال ۱۳۷۴ هـ.ش / دوهم پړاو ۱۰۹۵ ګڼه / چهارشنبه د محرم‌الحرام ۱۵مه ۱۴٤٨هـ.ق / د چنګاښ ۱۰مه ۱۴۰۵ هـ.ش / د جولای لومړۍ ۲۰۲٦ ميلادي

د رياست الوزراء اقتصادي معاونيت:

په بېلابېلو ولايتونو کې د سړک جوړونې ۷۴ لويې پروژې پلې کېږي

د رياست الوزراء اقتصادي معاونيت ويلي: د ټولګټو چارو وزارت له لوري د هېواد په بېلابېلو ولايتونو کې د سړک جوړولو پر ۷۴ پروژو کارونه روان دي. د رياست الوزراء اقتصادي معاونيت ويلي: د کابل -غزني دويم لين سړک، د سالنګونو لويه لاره، د کونړ- نورستان سړک، د دشت ارچي -کندز سړک، د کندهار- سپين بولدک سړک، د ميمني -فردوس سړک، د کندهار- هلمند سړک، بادغيس کې حقلوي سړک او د قوش‌تېپې - درزاب سړک په دغو پروژو کې شامل دي. د اقتصادي معاونيت د معلوماتو له مخې، دغو پروژو کې په مستقيم او غير مستقيم ډول څه باندې ۱۳۲زره کسانو ته د کار زمينه برابره شوې او د چارو په پلي‌کېدو کې ۹۴۹۳ بېلابېل ماشينونه هم کارول کېږي.

د سرحدونو، قومونو او قبايلو چارو وزير:

يرغلګر تل په افغانستان کې له ماتې سره مخ شوي

د سرحدونو، قومونو او قبايلو چارو وزير ملا نورالله نوري کابل کې د اهل تشيع علماءو غونډې ته ويلي: د افغانانو امنيت او د خاورې ساتنه د اسلامي امارت لومړيتوب دی. ښاغلي نوري ويلي: هېواد کې ملي زياته کړې: هر يرغلګر چې افغانستان ته په بده کتلي له ماتې سره مخ شوی او دا بايد د ټولو لپاره عبرت او پند وي. ده له هېوادوالو غوښتنه وکړه، چې خپل ملي يووالی وساتي او د اسلامي نظام ملاتړ ته دوام ورکړي. د ده په

يووالی، ازادي او امنيت حاکم شوي او چاته به اجازه ورنه کړي، چې د افغانستان امنيت ګډوډ کړي. نوموړي خبره اسلامي نظام به د خلکو ساتنه کوي او خلک به د اسلامي نظام دفاع کوي.

پر افغان خاوره د پاکستاني رژيم وروستي بريدونه په نړيواله کچه وغندل شول

نړيوالو بنسټونو، په ځانګړي ډول هند، يوناما، يونيسف، اروپايي ټولنې او د ناروې د کډوالو شورا، د پاکستان د پوځي رژيم له لوري پر افغانستان د وروستيو هوايي بريدونو سخته غندنه کړې ده. دوی ويلي چې په پکتيا، پکتيکا او کونړ ولايتونو کې د شويو بريدونو له امله ښځې او ماشومان هم وژل شوي او ټپيان شوي دي، چې دا له نړيوال بشردوستانه قانون څخه ښکاره سرغړونه ده. يوناما او يونيسف د ملکي وګړو د خونديتوب غوښتنه کړې او د مرګ‌ژوبلې د زياتېدو له احتمال څخه يې اندېښنه څرګنده کړې ده. راپورونه وايي چې په دې بريدونو کې لسګونه ملکي وګړي شهيدان او له سلو ډېر ټپيان شوي دي.

له پروان پوهنتون سره د علمي او رسنيزو همکاريو د پراختيا ژمنه

د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت د خپرونو چارو معين ښاغلي مهاجر فراهي د يوه پلاوي په مشرۍ پروان ولايت ته د سفر پر مهال د پروان پوهنتون له رئيس دوکتور مولوي محمدعزيز کاظم سره وليدل. په دې ليدنه کې د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت او د لوړو زده کړو د بنسټونو ترمنځ د علمي، ښوونيزو او فرهنګي همکاريو پر پراختيا ټينګار وشو او د ژورناليزم پوهنځي د زده کړيالانو د ظرفيت لوړول او د کتابتونونو سمبالول د دغه وزارت له لومړيتوبونو څخه وبلل شول. د خپرونو چارو معين د پروان

پوهنتون له اداري او علمي پرمختګونو څخه د مننې ترڅنګ، د ژورناليزم پوهنځي اړوند د (ابتکار) راډيو له سټېډيو او د دغه پوهنتون له عامه کتابتون څخه هم ليدنه وکړه او د زده کړيالانو د عملي او خبرنيزو مهارتونو په لوړولو کې يې د دغو مرکزونو رول مهم وباله. ښاغلي فراهي وويل: د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت چمتو دی، چې د تخصصي روزنيزو پروګرامونو په جوړولو، د ظرفيت لوړونې فرصتونو په برابرولو او د اړتيا وړ کتابونو په ورکړه کې له پروان پوهنتون سره همکاري وکړي، ترڅو د ژورناليزم پوهنځي د زده کړيالانو د زده کړو بهير او د پوهنتون علمي سرچينې پياوړې شي. د پروان پوهنتون رئيس دغه همکارۍ د لوړو زده کړو او فرهنګي بنسټونو ترمنځ د اړيکو د پياوړتيا لپاره اغېزمن ګام وباله او د متخصص او ژمن بشري ځواک د روزنې لپاره يې د علمي تعامل پر دوام ټينګار وکړ.

سرمقاله

نور د افغان ولس حوصله مه ازمايئ!

افغانستان د تاريخ په اوږدو کې د ازادۍ، خپلواکۍ او ملي حاکميت سمبول پاتې شوی دی. دا هغه خاوره ده چې هر وخت يې د پرديو د زور، تېري او اشغال پر وړاندې د مقاومت بيرغ لوړ ساتلی او خپلو راتلونکو نسلونو ته يې د عزت او سرلوړۍ درس پرېښی دی. افغان ولس که څه هم د سولې، ثبات او ارام ژوند تږی دی، خو د خپل وطن د دفاع او د خپل ملي وقار د ساتنې په برخه کې يې هېڅکله هم معامله نه ده کړې. همدا حقيقت دی چې د تاريخ په هر پړاو کې د دې خاورې د نيولو او ماتولو خوبونه په ناکامۍ بدل شوي دي.

د افغانستان پر خاوره هر ډول بريد، د هېواد پر ملي حاکميت، ځمکنۍ بشپړتيا او د ولس پر اساسي حقونو څرګند تېری ګڼل کېږي. وروستيو ناوړو او دردناکو پېښو يو ځل بيا دا پوښتنه راولاړه کړې چې ولې لا هم د تفاهم او ښه ګاونډيتوب پر ځای د زور او فشار تګلاره کارول کېږي؟

دا لومړی او وروستی ځل نه دی چې د افغانستان پر خاوره د پاکستاني پوځي رژيم له لوري وحشيانه او بزدلانه بريدونه ترسره کېږي چې له امله يې بې‌ګناه ولسي وګړي خپل ژوند له لاسه ورکوي. همدارنګه دا هم له حقيقت څخه لرې خبره ده چې پر افغان خاوره د پاکستان پوځي تېري د اسلامي امارت له بيا واکمنېدو سره پيل شوي. نه، داسې نه ده. دې ترهګر رژيم د ظاهرشاه او داود خان د واکمنيو له مهاله تر اوسه په سلګونو وارې د افغانستان بې ګناه وګړي په نښه کړي، خو يو نظام هم داسې پرېکنده او غوښ ځواب نه و ورکړی، لکه اسلامي امارت چې ورکړ.

افغان ولس د خپل تاريخ په اوږدو کې د ازادۍ، عزت او خپلواکۍ لپاره سترې قربانۍ ورکړې دي. دا هغه ملت دی چې د نړۍ د سترو قدرتونو پر وړاندې يې د مقاومت بې‌ساري مثالونه ثبت کړي دي. د دې خاورې مېړنيو زامنو او لوڼو د خپل وطن د دفاع لپاره نه ستړې کېدونکې مبارزې کړې او خپل ...۳مخ

برای نخستین‌بار سنگ گرین گارنیت معادن پنجشیر به فروش رسید

سیف‌الدین لټون، سخنگوی مقام ولایت پنجشیر می‌گوید که برای نخستین‌بار سنگ قیمتی گرین گارنیت از طریق پروسه داوطلبی آزاد در این ولایت به فروش رسیده است. به گفته او در این پروسه ۳۲۹۷ قیراط زمرد تازه استخراج‌شده به ارزش ۱۹۸ هزار و ۳۷۰ دالر و ۱۳ سمپل گرین گارنیت به ارزش

۲۵۰ دالر به فروش رسید. آقای لټون افزوده که روند توزیع جواز استخراج ۶۶ نوع منرال و سنگ‌های قیمتی و نیمه‌قیمتی در پنجشیر نیز آغاز شده و با استقبال باشندگان روبه‌رو شده است. به گفته او طی سه سال گذشته برای حدود ۱۵ هزار کارگر در معادن زمینه کار مستقیم و غیرمستقیم فراهم شده و نزدیک به ۵۰۰ جوان نیز به تجارت سنگ‌های قیمتی روی آورده‌اند.

مسدود شدن ۱۹ دفتر متخلف رهنمای معاملات در کابل

وزارت عدلیه می‌گوید که در جریان ماه جوزا از ۶۳ دفتر رهنمای معاملات در کابل نظارت صورت گرفته که در نتیجه ۱۹ دفتر به دلیل تخلفات و فعالیت‌های غیرقانونی مسدود شده‌اند. براساس خبرنامه این وزارت، هیئت نظارتی ریاست عمومی انسجام امور رهنمای معاملات و ریاست امور عریضه‌نویسان، به سایر مسئولین دفاتر رهنمای معاملات توصیه کرده‌است که نواقص کاری خود را برطرف ...ص۳

په کابل کې د ښکلو هنرونو او صنايعو انسټيټيوټ نندارتون پيل شو

د ښکلو هنرونو او صنايعو انسټيټيوټ نندارتون پرون په کابل کې د تخنيکي او مسلکي زده‌کړو ادارې د يو شمېر مسئولينو په حضور کې پرانيستل شو. دا نندارتون به درې ورځې ...۳مخ

دا وطن بې څښتنه نه دی!

۲مخ

پر افغانستان لګول شويو بنديزو خپل اغېز له لاسه ورکړی

په ملګرو ملتونو کې د هند دايمي استازي، هرېش پروتهنني ويلي، چې د نړۍ‌والې ټولنې له خوا پر افغانستان لګول شويو بنديزونو خپل اغېز له لاسه ورکړی. نوموړي ټينګار کړی، چې دغه بنديزونه بايد د دغه هېواد د

وروستيو بدلونونو او اوسنيو واقعيتونو ته په کتو له سره وارزول شي.

هغه ويلي، چې نړۍ‌واله ټولنه بايد د سخت چلند پر ځای له هغو لارو واخلي چې د افغانستان د خلکو په ګټه وي.

د هند استازي وړاندې پر افغانستان د پاکستان پوځي رژيم وروستي بريدونه هم کلکه غندلي. هرېش پروتهنني ويلي، د پوځي رژيم دغو بريدونو له ملکي مرګ‌ژوبلې پرته بله پايله نه‌ده لرلې.

لوګر کې پر ۲۰۰ جريبه ځمکه د بار وړونکو موټرو لپاره معياري تمځای جوړېږي

د لوګر ولايت د مرکز پل علم ښار اړوند ويدخ سيمه کې د بار وړونکو موټرو لپاره د يوه معياري تمځي د جوړېدو چارې پيل شوې دي. ځايي مسئولينو ويلي: دغه پروژه د ټرانسپورټ او هوايي چلند وزارت له لوري ...۳مخ

دا وطن بې څښتنه نه دی!

دوکتور لطف الله خیرخوا

ښاغلی معزول او منعزل ډاکټر صاحب!
ستاسې عالمانه او له زړه سوي ډکه(!) لیکنه مو ولوسته.

درې نکتې یې ډېرې مهمې وې، لومړۍ دا چې:

د کوم امنیت دعوه چې کېدله، هغه امنیت څه شـو؟ ښـاغلی مفکر صاحب، تا ته خو به د امنیت دولونه بهتر معلوم وي(!)، دعوه د کوم امنیت شـوې او خراب شوی کوم امنیت دی؟

تا نـه که څوک پوښـتنه وکړي، چـې د ایران امنیت خراب دی؟ سـتا ځواب به څه وي؟ د سعودي، کوېټ او اماراتو امنیت خراب دی؟ سـتا ځواب به څـه وي؟ ځکه چـې پر ایران اسـرائیلو او امریـکا بریدونه کـول، پر عربي هېوادونو ایران کول.

سـتا خپلـه دوره یادېـږي؟ سـتا دوره کې د افغانسـتان پـه کونج کونـج کې لـه باګرامه ۲۵۰۰۰ پنځه ویشت زره بریدونه شوي دي؟ اوس د هر برید اوسط شهیدان معلوم کړه او بیا یې ضرب کړه چې څو شـول؟ ټپیان، بې کوره او افلاس یې پرې د پاسه.

ستا دوره کې پاکسـتان پر کونړ له ۲۰۰۰ ډېر توغندیز بریدونـه کړي، یوازې په ۲۰۱۷ کال کې یې ۵۰۰ توغندي راتوغولي وو. سـتا دوره کې ۲۵۰۰ افغانـان له خپلو سـیمو هجرت کولو ته اړ شول.

موږ به څه پوه شـو چې ته امنیت څه ته وایې؟ موږ به څه پوه شـو چې سـتا چارچاپېر ملګري تا ته د کوم وقاحت جرئت درکوي؟؟!! ځکه چې دغه وخت کې تا امریکا سره هم امنیتي تړون لاسلیک کړی و.

دوهمه خبره دا چې:

افغانسـتان دې بې طرفي اعلان کړي. بیا پوښـتنه دا ده چې ته بـې طرفي څه ته وایې؟ تا چې امریکا سـره د ۹ دایمي او سـلګونو غیر دایمي پوځي اډو لاسلیک وکړ، همغه بې طرفي وه؟ تا چې د امریکایانو پر حضور ټینګار کاوه او سـتونی دې وشـکاوه چې تاسې د واشـنګټن جګړه کوئ، مصارف به کم کړئ، خو امریکا دې نه وځي، همدا بې طرفي وه؟ ټرمپ چې باګرام ته راغی، ته یې ور وغوښـتې او د امریکایي عسـکرو منځ کې یې ودرولې، هغه وینـا دې یاده ده؟؟ تا پر څه ټینګار کاوه؟؟

ته د انزوا بحث په کومو سترګو کوې؟ ته مطرح وې؟ ستا نظام مطرح و؟؟ ته چې امریکا تـه ۹ دایمي اډې ورکوې، په خپله لس کلنه دوره کـې د ۲۵۰۰۰ هوایي بریدونو اجازه ورکوې، پاکسـتان ته د ۲۰۰۰ توغندیو د ویشـتلو اجازه ورکوې، نو ته د کـوم ډول مطرح کېدو دعوی کوې؟ په تجارت مطرح وې؟ که په صادراتو؟ که په کومو ښـو تعلیمي، تحصیلي، اداري، ...سیسـتمونو؟؟ که په دې چـې د نړۍ پـه قضایاوو کې د افغانسـتان رول ډېر ژور او مؤثر و؟ دا د کشـمیر او فلسطین قضیې تا حل کړې؟ پاکستان چې اوس پر افغانستان کوم تور لګوي، دا ستا د دورې سـوغات دی او دا قضیه له هغه وخته پیل ده، دا اوسـنۍ نه ده قربان. ستا مطرح کېدل زموږ یاد دي چې کله به د فسـاد لېسـتونه اعلانېدل، افغانسـتان به په کې اول نمره و.

> **ستا مطرح کېدل زموږ یاد دي، چې ډاکټر عبد الله سره به دې په ټول افغانستان کې په نیم میلیون رایو شخړه وه، بیا به جان کیري راغی، غوږ کې به یې درته وویل چې رایې مایې پرپرېدئ، نیمه ستا او نیمه د عبد الله، ساړه غوړونه به خپلو خپلو دفترونو ته لاړئ. افغانستان د نړۍ له دوه قطبي کېدو راهیسې بې طرفي اعلان کړې. مگر د دې بې طرفۍ معنا څه ده؟ معنا هغه هېواد چې هېڅ ایډیالوژیک او تمدني وجود او اغېزې یې نه شته.**

سـتا مطرح کېدل زموږ یاد دي، چې ډاکټر عبد الله سـره به دې په ټول افغانسـتان کې په نیم میلیون رایو شـخړه وه، بیا به جان کیري راغی، غوږ کې به یـې درته وویل چې رایې مایې پرپرېدئ، نیمه سـتا او نیمه د عبد الله، سـاړه غوړونه به خپلو خپلو دفترونو ته لاړئ.

افغانسـتان د نړۍ له دوه قطبي کېدو راهیسې بې طرفي اعلان کړې. مګر د دې بـې طرفۍ معنا څه ده؟ معنا هغه هېواد چې هېـڅ ایډیالوژیک او تمدني وجود او اغېزې یې نه شـته. ته د افغانستان هوښیار دښمن یې، په داسې ژبه غړېږې چې غرب ته تښـتېدلی نادانه مخلوق درته ښه په جوش چکچکې وهي.

اصلاً پوښـتنه دا ده چې په اوسـني سیاسي سـیاق کې د بې طرفۍ موضوع څنګه در یاده شـوه؟ که ته دا ویل غواړې چې افغانسـتان اوس د روسـیې طرف ته نږدې ښکاري او امریکا سره په واټن کې دی، نو ستا د غرب چکچکماران دې پوه وي چې دا د بلاکونو، ایډیالوژیو او د نړۍ د تمدني حوزو اتحادي صـورت نه دی. دا تفصیلي بحث دی، همدومره اشـاره درته بس ده، ټامیان دې نور خپله پوهوه. موږ پر دې کیسـو غولولی نه شـې. افغانستان ته د خپل مسـتقل ایډیالوژیک او تمدني وجود خبره کولی شـې، خو نه یې کوې، ته او سـتا په څېر پر مسـلمانانو حاکمو ډلو مسلمانان په دغو بې ځایه اصطلاحاتو کارولـو او غولونو د دوو پیسـو کړل. د خـدای پار دی چې سریلانکا د خپل تمدن د استازولۍ دعوه کوي، مګر له غرونو جوړ غرونه هېوادونه مو داسـې ځای ته ټېل وهل، چې یوازې قیامت کې را وینښېدلی شې.

درېیمه خبره دا ده چې:

ته ښـاغلی د ملي اجماع لپاره رول اداء کولو ته تیار یې، مګر تـا ته به چا ویلي وي چې ته پـه ملي اجماع کې رول لوبولی شې؟ هغه درته وویل او تا ومنل؟ لږ دې ګرېوان کې سر ښکته کړه، خدای او رسـول خو هسـې هم نه منې. ډاکټر عبد الله سـره دې ملي اجماع یادېږي؟ عطاء نور سره دې ملي اجماع یادېږي؟ د پارلمان غړو سره دې ملي اجماع یادېږي؟؟ د دوحې مذاکراتو ټیم کې دې ملي اجماع یادېږي؟ د تېښـتې وخـت کې دې ملي اجماع یادېږي؟؟ ته د کومې ملي اجماع خبره کوې؟؟ که نه، ته هم د هغه شـاعر غونډې وایې چې:

ابۍ کوهي کې غورځېدلې ده نور خیر خیریت دی
پښه یې چورلټه ماته شوې ده نور خیر خیریت دی

دا وطن بې څښـتنه نه دی. څه رقم چې ستا ضد او انکار سر وخوړ، دغسې به ستا د «پیر بهایانو» ضد او انکار سر خوري، ان شاءالله. پر خوله دې لاس کېږده.

د قلم کرښې د تېرې تورې کار هم کولای شي

مولوي خالد تسل

د یـو چا د ځپلو او راپرځولو له وسـیلو څخه یوه هم د قلموالو لپاره ځواکمنه وسیله او وسله تاند فکر او توند قلم دی.

د غـزاء په میدان کې، د قتال په لیکو کې او د معرکې په لړ کې د تورې رول بـارز دی او څرګنده ده، چې د حق تېره توره د باطل لښکرونه ماتوي او راپرځوي یې.

دغه راز د پاکسـتان د خاصې حلقې نـادرې نیوکې، د توندۍ چلند او بې رحمانه رنډې بمبارۍ، په اوسـنۍ نړۍ کې د هغو سر مسـتو، بدمعاشانو پېښو ته ورته دي، چې آن هغوی یې هم له بدو پایلو او ناوړو برخلیکونو سره مخ کړي دي.

نو څوک چې یې کوي، لکه پاکسـتان، حتماً به یې برخلیک او پـای همهغه وي او الله جل جلاله دې زموږ د مظلومو افغانانو په سـترګو دغسـې ذلیل ووینې، چې ترې بدتـر بل څوک نه جوړېږي، آمین.

د پاکسـتان د تېرې یکشنبه شـپې د ظالمانه تېري او بمبارۍ پر اساس ښایي، هر هغه څوک چې منحیث د یو مسلمان یې د بل مسـلمان په درد خوابدېږي، د خپل وس په اندازه یو څه وکړي، په خاصه توګه قلموال باید داسې هر اړخیزې مقالې او له دلائلو او شواهدو سره د هغو ظلمونو او وحشتونو سپړنه وکړي، چې یو تش په نامه مسـلمان هېواد د غازي افغانستان له غیورو ولسونو سره ترسره کړي دي.

د صبر کاسه چې ډکه شي، نو نور به ترڅو انسان صبر کوي. صبر دلته نه تمامېږي، چې ولې مذاکرات نه راسـره کوي، صبر دلته خلاصېږي، چې په مذاکراتو کې هم داسې ورانډې وړاندې کېږي، چې هغه هېڅ معقول او یا هم منطقي نه وي او ورسـره په ضمن کې د مذاکراتو په جریان کې له پاکسـتاني لوري هڅه کېږي، چې د طبیعت په حاکمیت درلودلو سره خپلو خواهشاتو ته ورسېږي.

په کوم دلیل، کوم منطق او کومو شـواهدو باندې د یو هېواد تور سـرې، سپین سرې او معصوم ماشومان د بمبارونو په دوړو کې په وحشت سره شهیدانېږي او ولې دومره لویې تېروتنې بیا ـ بیا تکرارېږي؟ ولې د پاکسـتان حاکمان، سیاسیون او مخور دغو سر مستو او شرابیانو ته سر نه ورخلاصوي او ولې د دغو تکراري جنایتونو اصلي مرتکبین خپل ځانونه هېڅ پړه نه بولي؟

آخر انسـان هک پک پاتې شي، چې یو دوه مسلمان او همسایه هېوادونه ولې ځینې سـر ناخلاصه په نړۍ داسې انځور کړي، چې کفار له اسلام څخه بېزاره شي.

په پای کې دا وایم، د پاکستان د حاکم رژیم تېروتنې او تکراري جنایتونه د برداشتونو او صبرونو له دائرو وتلې ښکاري.

لږ دې دغه تش په نامه د مسـلمانۍ دعـوه کوونکي مرتکبین آخـرت ور په یاد کړي او خپل ځان تـه دې وګوري او کړنو ته، مقایسوي جائزه دې واخلي، چې دا اوس څه کوو موږ او څه نه.

ای الله جل جلاله! خصوصي رحم له تا نه غواړو.

د مېږي چې وزر وشي، هلاکت یې رانږدې شي!

مولوي ضیاءالحق «حسان»

د الله تعالی عادت په دې جاري دی، چې د وخت فرعونیان هغـه مهال د هلاکت کندې ته غورځوي، چې د مقابلې ډګر ته راووزي، که فرعون په خپل تخت ناسـت وای، ښـایي د هلاکت وخت یې دومره ژر نه وای راغلی؛ خو کله یې چې د موسـی علیه السـلام او د هغه د ملګرو د له منځه وړلو په نیت لښـکر را واېسـت، د نیل څپو هغه او لښـکر یې راګیر کړل او د هلاکت کندې ته یې وغورځول.

پښـتانه وایي: «د مېږي چې وزر وشي، هلاکت یې رانږدې شـي.» یا « د مېږي چې ورکه راشـي، نو وزرونه وباسـي» همداسـې، هر هغه ځواک چې د غـرور، ظلم او د پردیو د ګټو د خوندي کولو لپاره پر بې‌ګناه خلکو تېری کوي، د خپل زوال بنسټ په خپله ږدي.

د پاکسـتان واکمن رژیم د پردیو په اشـاره پر افغانستان څو ځلـه بریدونه کـړي دي. دا لومړی ځل نـه دی؛ له تېر کال راهیسـې یې څو ځله زمـوږ د هېواد په بېلابېلو سـیمو کې ملکي وګړي، ښـځې، ماشومان، سـپین‌ږیري او ناروغان په نښـه کړي دي. د شـپې په تیارو کې پر مظلومـو هېوادوالو بریدونـه د هېڅ دین، قانون او انسـاني وجـدان له مخې د توجیه وړ نه دي.

په ځانګړې توګه، پـر روغتیایي مرکزونو او ناروغانو بریدونه هغه تور داغونه دي چې د تاریخ لـه حافظې به هېڅکله ونه وځي.

د افغانسـتان تاریخ د یرغلګـرو پر وړانـدې د مقاومت له بېلګـو ډک دی. دې خاورې د بېلابېلو امپراتوریو او یرغلګرو د ماتې کیسـې لیدلې دي. هر هغه څوک چې د زور، غرور او تېري پر مټ د دې ولس اراده ماتول غواړي، باید د تاریخ له عبرتونو زده کړه وکړي.

له بلې خوا، د پاکسـتان مؤمنو او عامو خلکو د افغانستان له ولس سـره د تاریخ په بېلابېلو پړاوونـو کې خواخوږي کړې ده؛ د شـوروي یرغل پر مهال یې د مهاجرینو کوربه‌توب وکړ او ګڼـو خلکو قربانۍ ورکړې. له همدې امله، د واکمن رژیم کړنې باید د ټول ولس له دریځ سـره یو شان ونه ګڼل شي.

افغانسـتان د مېړنیـو او آزادو انسـانانو ټاټوبـی دی. د دې خاورې خلـک د خپل هېواد د دفـاع اوږد او ویاړلی تاریخ لري او باور لري چې ظلم دوام نه لري، بلکې پای یې عبرت او زوال دی.

وَاللَّهُ غَالِـبٌ عَلَىٰ أَمْرِهِ وَلَٰكِنَّ أَكْثَرَ النَّاسِ لَا يَعْلَمُونَ.

الله تعالی دې د وخت غلام او رژیم ځواک نور د پاکسـتان لـه خاورې محوه او د قـدرت راج دې اللـه تعالی ور چپه کړي، تر څو یې له شـر څخـه د پاکسـتان متدین ولس او ګاونډي هېوادونه خلاص شي!

د امپراتوریو هدیرې ته کاڼي مه راوله!

م حکمت الله «وقار»

تاریخ د انسانانو د ژوند او تېرېدونکي وخت له ټولو رښتینی شاهد دی. هغه پاڼې چې د وخت په اوږدو کې په وینو، قربانیو او مقاومت لیکل شوې دي، هېڅکله نه ورکېږي. د نړۍ په نقشـه کې داسې سیمې شـته چې هر ځواکمن یرغلګر یې د نیولو خوب لیدلی، خو د وخت په تېرېدو یې هماغه خوب په ماتې، پښېمانۍ او شرمندګۍ بدل شوی دی. افغانستان د همدغو تاریخي هېوادونو له ډلې څخه دی؛ هغه خاوره چې د بېلابېلو امپراتوریو د لښکرو د ماتې او ناکامیو شاهده پاتې شوې ده. هر هغه ځواک چې د زور، غرور او نظامي برلاسۍ په نشه کې دې خاورې ته راغلی، بالاخره د تاریخ له سخت قضاوت او نړۍ ته له شرم سره مخ شوی دی. نن هم په پاکستان کې حاکم پوځي رژیم د پردیو په اشارو دې سپېڅلي مجاهد پرورې، احمدشاه پرورې او غازي محمدجان خان پرورې خاورې ته دا څووم ځل دی چې په کمه ګوري. کله د ملکي او بې‌وسو خلکو پر کورونو بمبارونه کوي او کله بیا فرضي کرښې ته نږدې رانده توپونه راولي، چې اکثره وخت د ملکیانو او بې‌وسـو خلکو د مرګ ژوبلې او تکلیف سبب کېږي. موږ پوځی رژیم ته وایو چې، په الله قسـم، چې لا مو اورې د کمربندونو له داغونو جوړې نه دي، لا هم د پردیو پر وړاندې بې‌پروا نه یو. موږ خپل ځانونه وینو، چې رب د یو لوی کار او د دې امت د لوېدلي برم د اعادې لپاره زموږ متونه او سینې ټاکلي دي. موږ چې د انګرېز دارې ماتې کړې، موږ چې د روسـانو اتحاد مات کړ، موږ چې ناټوخېل مو له نړیوال اشر سره وټکول، نو داسې کوچنی اسرائیلي رقمه، د څو پلاستیکي جنرالانو په قومانده پوځي رژیم به څه وکړای شي؟

په داسې حال کې چې د هېواد هر ځوان او هر فرد د پوځي رژیم پر وړاندې، د دوی د دې او نورو ظلمونو په لیدلو، مقاومت او مبارزې ته بې حده لېوالتیا لري.

دا خاموشي به بالآخره ماتېږي

ارسلا حسان

افغانستان د تاریخ په اوږدو کې له ګڼو یرغلونو، ظلمونو او تېریو سره مخ شوی، خو د دې خاورې ولس تل د خپل استقلال، عزت او آزادۍ د دفاع لپاره ولاړ پاتې شوی دی. نن هم د پاکستاني پوځي ظالم رژیم له لوري پر افغان خاوره ترسره کېدونکې بمبارۍ، راکټي بریدونه او پر عامو ولسونو تپل شوی تاوتریخوالی او بې مثاله ظلمونه د افغانانو په زړونو کې ژور درد او غوسه راپاروي.

دا چې پر افغان خاوره د پاکسـتاني رژیم د هوایي بریدونو له امله ګڼ شمېر ملکي وګړي شهیدان او ټپیانېږي. دا هر څه غیر ارادي نه، بلکې په قصدي توګه په ښکاره او د نړیوالو د سترګو پر وړاندې یې په ډېره سپین سترګۍ ترسره کوي، دلته هر څه ښکاره دي؛ نه له نړیوالو رسنیو پټ دي او نه هم له ملګرو ملتونو او د سیمې له هېوادونو.

دوی چې د داعش او یا هم د نورو ترهګریزو ډلو په بهانه پر افغان خاور بریدونه کوي، په اصل کې همدا د پاکستاني رژیم او جغرافیوي جوړښت له همدې ترهګرۍ څخه سرچینه اخلي، دوی یې رامنځ ته کوي، دوی یې روزنه کوي، دوی ورته مراکز را منځ ته کوي، مالي ملاتړ یې کوي، د سیمې نورو هېوادونو ته یې د شورش او نا امنۍ لپاره لېږي، پروژې ورته ډیزاین کوي، له امریکا او نورو سرکشـو ورته بودجه اخلي او تر څنګ یې ځان داسې معرفي کړی چې ګواکې دوی یې قربانیان دي؛ خو په اصل کې د دې ټولو ناخوالو سرچینه همدا ناپاکه خاوره ده. بله خوا ټي ټي پي چې د پاکستاني رژیم په مقابل کې راپورته شوي، دا د همدوی د ظلمونو او کړنو نتیجه ده، ټي ټي پي، چې مکمل حضور یې د پاکسـتان په داخل کې دی، له داخله رهبري کېږي او ټول مشران او رهبري یې په داخل کې ده، فوځي رژیم یې له مهارولو په بشپړه توګه ناتوان دی، د ټي ټي پي ټول بریدونه او فعالیتونه په داخل کې ترسره کېږي.

یو بل کار چې پاکسـتان ورتـه ملا تړلې هغه دا چې، د افغانسـتان د خپلواکۍ، د امریکایي اشغال د ماتې او د دوی د لاسپوڅو له تښتېدلو سره سم یې د هغو تښتېدلو اربکیو د انسجام او بیرته د افغانانو په مقابل کې د استفاده کولو لړۍ پیل کړې، دوی همدا کار د نورو په لمسـون او د خپلو مادي ګټو په خاطر ترسـره کوي، چې دا کار افغانان له هر اړخه ځاري او په مقابل کې به یې هېڅ بې پلانه او بې ځوابه پاتې نه شي.

بله خوا دوی «پاکسـتانی رژیم» د خپلو شـومو کړنو غلط انعکاس او ناوړه اغېزې پر افغانانو د ناوړو ظلمونو او بریدونو په سـیوري کې پټوي او نه غواړي چې نړیوال له واقعي انځور څخه خبر شـي. پوځي رژیم او نړۍ هېڅکله هم نه شي ثبوتولای چې افغانستان دې د ترهګرو ډلو کوربه وي، که چېرته افغانستان د داسې ډلو او ناوړو کړنو کوربه وای او له دوی سره یې ثبوت وای، نو دوی به هېڅکله دریغ نه وای کړی او مسـتقیماً به یې پر نړیوال سـتېج دا هر څه وړاندې کړي وای، داچې له یوې خوا افغانسـتان له داسې ډلو په مکمل ډول پاک دی او بله خوا له دښمن سره هېڅ ثبوت نشته، نو ځکه یې په داسې بې رحمانه کړنو لاس پورې کړی دی او له دې کار څخه یې یوازینی هدف دا دی چې دوی نه غواړي چې یو ازاد افغانستان ووینې.

لنډه دا چې درد هغه مهال لا ژور شي چې د بې ګناه ماشومانو چیغې د نړۍ تر غوږونو ورسـېږي او د میندو او پلرونو اوښکې د سیاستونو تر سیوري لاندې پټې پاتې شي. افغان ولس باور لري چې د زور او بمباریو له لارې د ولسونو ارادې نه ماتېږي.

خو تاریخ شاهد دی چې ظلم تلپاتې نه وي؛ هره تیاره یو پای لري او هره خاموشي یوه ورځ ماتېږي. د افغانانو خاموشي د کمزورۍ نښه نه ده؛ دا د صبر، زغم او د یو غوره فرصت انتظار دی.

یو وخت به حقیقت څرګند شي، د مظلومانو غږ به پورته شي او نړۍ به د دې خاورې د خلکو درد په روښانه ډول واوري.

دا خاموشي به بالآخره ماتېږي؛ افغانان هېڅ وخت هم د حق په دفاع کې خاموش نه دي پاتې شوي او نه یې خپل غچ چاته په اسانۍ پرېښی، عدالت به تر دروازو ورسېږي او حق به د باطل پر وړاندې قایم درېږي.

د ا.ا.ا مرکزي ویاند په خپلو څرګندونو کې زیاتوي چې:

«د پاکستان د پوځي رژیم برید به بې ځوابه پاتې نه شي، موږ که څه هم هوایي دفاع نه لرو، خو انتقام اخیستنې ته بې بدیلې لارې لرو.

افغانانو له پاکسـتانه پیاوړي دښـمنان ماتې ته مجبور کړي دي، دا دښـمن به هم مجبوروي».

له داسې څرګندونو په ښکاره معلومېږي چې د افغانانو هوډ او ارادې نه دي کمزورې شوې، بلکې پر داسې لارو چارو غور کوي چې په کې د دښمن ټول اهداف له منځه یوسي او دا د لستونې مار به د تل لپاره له دې خاورې څخه محوه کړي.

افغان اعـــلانات

اطلاعیه کندز

ریاست فواید عامه ولایت کندز در نظر دارد پروژه خریداری پرزه جات و ترمیمات وسایط ماشینری این ریاست را به روش داوطلبی آزاد به اعلان بسپارد. نهادی های دولتی و خصوصی که خواهان اشتراک در این روند هستند می توانند سر از تاریخ نشر اعلان الی ۲۱ یوم کاری به این ریاست مراجعه نموده، آفر و شرطنامه را در بدل ۱۰۰۰ افغانی پول غیر قابل برگشت اخذ نمایند.۳۰۲۳

***

اطلاعیه کندز

ریاست فواید عامه ولایت کندز در نظر دارد تا پروژه خریداری روغنیات و مواد چرپ کننده مورد نیاز وسایط و ماشینری این ریاست را به روش آزاد داوطلبی به اعلان بسپارد، نهاد های دولتی و خصوصی که خواهان اشتراک در این روند هستند می توانند سر از تاریخ نشر اعلان الی ۲۱ یوم کاری به این ریاست مراجعه نموده، آفر و شرطنامه را در بدل ۱۰۰۰ افغانی پول غیر قابل برگشت اخذ نمایند.۳۰۲۱

***

دعوت به داوطلبی بازملی

{ تهیه وتدارک ترمیمات ساختمانی }

ر.ع.ت.ب.و/۱۴۰۵/د.ب.م/س-۰۲ } }

ریاست عمومی المپیک، تربیت بدنی و ورزش ازتمام داوطلبان واجد شرایط دعوت می نماید تادرپروسه داوطلبی (تهیه وتدارک ترمیمات ساختمانی) این اداره اشتراک نموده ونقل اسکن شده شرطنامه مربوط رادرفلش، هاردیسک (حافظه) طور رایگان ازآمریت تهیه وتدارکات ریاست عمومی المپیک، تربیت بدنی و ورزش واقع چمن حضوری، ناحیه شانزدهم- کابل دریافت نمایند. واطلاعیه را از ویب سایت اداره ورزش و سیستم تدارکات الکترونیکی و باز افغانستان نیز می توانند مشاهده نمایند. آفرهای خویش رامطابق شرایط مندرج شرطنامه وطبق قانون وطرزالعمل تدارکات طور سربسته ازتاریخ نشراعلان الی ساعت (۱۰:۰۰ قبل ازظهر) روز(چهار شنبه) مورخ(۳۱/سرطان/۱۴۰۵) به دفتر ریاست عمومی مالی واداری ,منزل سوم تعمیر اداری ارائه نمایند. آفرهای ناوقت رسیده وانترنیتی قابل پذیرش نمی باشد. وجلسه آفرگشائی بروز چهار شنبه مورخ:-(۳۱/سرطان/۱۴۰۵) به ساعت (۱۰:۳۰ ق.ظ) دردفتر ریاست عمومی مالی واداری تدویر میگردد. ۳۱۵۱

***

اطلاعیه مزایده جایداد

حسب هدایت قرار قضایی نمبر ۴/۴۶ مورخ ۱۴۴۶/۲/۳۰ ریاست محترم محکمه ابتدائیه زون دوم ولا یت کابل هیت تطبیق حکم یم دربند حویلی به نام خیر محمد فرزند یار محمد ولدیت پاینده محمد واقع چمن وزیر آباد ناحیه دهم شاروالی کابل دارای قباله عرفی نمبر ۷۱۵ سته رهنمای معاملات وحیدی مورخ ۱۳۹۸/۱۱/۳۰ می باشد به فروش می رسانند.

افراد و اشخاصیکه خواهان خریداری حویلی متذکره باشند سر از تاریخ نشر اعلان میتوانند عریضه خویش را الی مدت ده یوم به ریاست محترم حقوق ولا یت کابل مدیریت ناحیه دهم تسلیم نموده و شرطنامه را ملاحظه و در داوطلبی اشتراک نمایند، تا کدام اجراات بعدی شرعی و اصولی که در نظر است مرعی گردد. ۳۱۱۹

***

اطلاعیه مفقودی

یک قطعه جواز صنفی دکان واقع ناحیه اول به اسم محترم ضیا الله فرزند عجب گل مفقود گردیده از اعتبار ساقط میباشند.۳۱۱۱

***

اطلاعیه مفقودی

یک قطعه جواز تشبث تورید مواد نفتی ندا جنرال تریدینګ لمتید نمبر ۳۵۵۱۵ به اسم محترم احمد همایون فرزند محمد شریف مفقود گردیده از اعتبار ساقط میباشند.۳۰۹۸

***

اطلاعیه مفقودی

یک قطعه امرفعالیت زرنج مدل ۲۰۱۸ به اسم محترم صلاح الدین فرزند محمد عمر مفقود گردیده از اعتبار ساقط میباشند.۳۱۰۶

***

اطلاعیه کندز

ریاست معارف ولا یت کندز در نظر دارد پروژه ترمیمات ۷ باب مکاتب حوز های تعلیمی خویش را از طریق ترمیم نماید، شرکت های امارتی و ساختمانی که خواهش عقد قرار داد را داشته باشند سر از تاریخ نشر اعلان الی مدت ۲۱ روز تقویمی در ریاست معارف ولا یت کندز مراجعه نموده شرطنامه را ملاحظه نموده و آفر اخذ نمایند. ۳۰۲۲

اعلان دعوت به داوطلبی

عنوان: تهیه و تدارک ۳۹ قلم رنگ باب(کارتریج) مورد ضرورت وزارت شهرسازی و مسکن

شماره دعوتنامه داوطلبی : MUDH/1405/NCB/G-1950

وزارت شهر سازی و مسکن ازتمام داوطلبان واجد شرایط دعوت می نماید، تا در پروسه تهیه و تدارک ۳۹ قلم رنگ باب(کارتریج) مورد ضرورت وزارت شهرسازی و مسکن نموده وسافت شرطنامه مربوط را به طور رایگان از ریاست تدارکات،وزارت شهرسازی و مسکن به دست آورده ویا از طریق سایت (سیستم تدارکات الکترونیکی افغانستان) شرطنامه را دانلود نموده، آفر های خویش را مطابق شرایط مندرج شرطنامه و طبق قوانین تدارکاتی حاکم در کشور طور سربسته از تاریخ نشر اعلان الی ساعت ۱۰:۰۰ قبل از ظهر مورخ ۱۵سرطان سال ۱٤۰۵ به ریاست تدارکات وزارت شهرسازی و مسکن واقع در مکروریان سوم، مقابل مطبعه آزادی ناحیه نهم شهر کابل، افغانستان ارایه نماید.آفر های نا وقت رسیده و انترنیتی قابل پذیرش نمی باشد. تضمین آفر به شکل تضمین بانکی مبلغ ۱۱٦,٤۰۰ (یکصدو شانزده هزار و چهار صد) افغانی و جلسه آفر گشایی به ساعت ۱۰:۰۰ قبل از ظهر مورخ ۱۵ سرطان سال ۱٤۰۵ در مسجد شریف وزارت شهرسازی و مسکن تدویر میگردد.

شماره	معیارات ارزیابی	
۱	حجم معاملات	قابل تطبیق نیست
۲	تجربه مشابه	قابل تطبیق نیست
۳	سرمایه نقدی	مبلغ 1,397,000 (یک میلیون و سه صدو نود و هفت هزار) افغانی
۴	تضمین آفر	مبلغ 116,400 (یکصدو شانزده هزار و چهار صد) افغانی.

نوت: (۱): پول نقد به عنوان تضمین آفر پذیرفته نمیشود. (۲): شرطنامه بصورت سافت به داوطلبان توزیع میگردد.

دعوت به داوطلبی

شماره	نام پروژه	شماره داوطلبی
۱	تهیه و تدارک ۳۰ قلم قرطاسیه باب برای (قرارگاه تصدی) معینیت تصدی ملی محافظت عامه بابت سال مالی ۱۴۰۵.	NPPF/1405/NCB/G-1582

اداره: معینیت تصدی ملی محافظت عامه

محل توزیع آفر: مدیریت تدارکات اجناس، آمریت تهیه و تدارکات

زمان آفر گشایی: (۷) روز کاری بعد از نشر اعلان

محل آفر گشایی: آمریت تهیه و تدارکات

د افغانستان او چین ترمنځ د اقتصادي ...

اړیکو د پیاوړتیا، د سوداګرۍ د پراختیا او د پانګونې د جذب په برخه کې مهم ګام بلل کېږي. دوی زیاتوي چې د دې سند له مخې به دواړه خواوې د صنعت، تولید، ټکنالوژۍ، سوداګرۍ او اقتصادي همکاریو په بېلابېلو برخو کې ګډ کار ته زمینه برابره کړي. همدارنګه ویل شوي چې دا هوکړه‌لیک به د افغانستان او چین د خصوصي سکټورونو ترمنځ د مستقیمو اړیکو د پراختیا لامل شي او د ګډو پانګونو او پروژو د پلي کېدو لپاره به نوي فرصتونه رامنځته کړي. مسئولین ټینګار کوي چې د دغه دول همکاریو پراختیا کولی شي د افغانستان د اقتصاد په وده، د بازارونو په پراخېدو او د کاري فرصتونو په زیاتوالي کې مهم رول ولوبوي.

افزایش چشمگیر انتقالات از طریق ...

اقتصادی، ترقی و خود اتکایی باز می شود. وزارت فواید عامه امارت اسلامی افغانستان سعی می‌ورزد تا شرایط مناسبی را برای انتقالات و سهولت های بهتری را برای تجاران فراهم نماید.

۳۵۰۰ روږدي کسان له فني او حرفوي ...

د خیاطۍ، ۱۰۰ تنه د بیک جوړونې، ۶۰ تنه د برېښنایي وسایلو د ترمیم او ۸۰ تنه د بوټ جوړونې په برخو کې عملي او نظري زده کړې ترلاسه کوي.» ښاغلي رحمت وویل: «د کار او ټولنیزو چارو وزارت له لوري د هېواد له بېلابېلو ولایتونو ۱۱ زرو روږدو کسانو ته فني او حرفوي زده کړې ورکړل شوې دي او اوس د خپلو کورنیو لپاره حلاله روزي برابروي.» ده زیاته کړه، چې په یاد مرکز کې ۱۰ تجربه لرونکي استادان د پنځو بېلابېلو حرفو په برخه کې عملي او نظري زده کړې ورانديې کوي. د بیک جوړونې استاد، محمد نسیم وایي: «خوښ دی چې روږدو کسانو ته زده کړې ورکوي.» د ده په خبره، دا مهال په مرکز کې اته دوله بیکونه جوړېږي او د زده کړو لپاره ټولې اړینې آسانتیاوې برابرې شوې دي. د فني او حرفوي زده کړو یو تن زده‌کوونکی سکندر وایي: «څو کاله یې په نشه‌یي توکو روږدی ژوند کړی، خو اوس دوه میاشتې کېږي چې د آغوش په مرکز کې د خیاطۍ زده کړې کوي. ده د اسلامي امارت له مسئولینو مننه وکړه، چې روږدو کسانو ته یې د درملنې ترڅنګ د فني او حرفوي زده کړو زمینه هم برابره کړې ده.»

سمیع الله مومند

افتتاح ساختمان جدید ریاست فواید عامه پکتیکا

طساختمان جدید ریاست فواید عامه پکتیکا که با هزینه نزدیک به ١٤ میلیون افغانی ساخته شده است، افتتاح شد. در مراسم افتتاح این ساختمان، مولوی محمد اکبر عادل رئیس فوایدعامۀ پکتیکا گفت که این ساختمان با هزینه بیش از ۱۳ میلیون و ۷۲۱ هزار افغانی از بودجۀ وزارت فوایدعامه، در مدت یک سال ساخته شده است. وی افزود که ساختمان متذکره در ۲ طبقه ساخته شده و دارای ۱۸ اتاق اداری، سیستم آب و برق و سایر امکانات لازم است. در این مراسم، مولوی عبدالخالق عابد والی پکتیکا، در سخنانش گفت: جای خوشی است که برای انجام منظم و به موقع امور این ریاست، چنین ساختمان معیاری ساخته شده است. وی از توجه رهبری اداره محلی این ولایت در راستای تطبیق پروژه های دیگرعام المنفعه، به منظور فراهم کردن سهولت های لازم برای مردم نیز اطمینان داد. همچنان شیخ عبدالقدوس اعظمی رئیس شورای علماء پکتیکا، در صحبت هایش ساخت سرک ها را اساس خودکفایی اقتصادی مردم دانست و افزود که این ساختمان، بنای مهم برای روند سرک سازی و ارائۀ خدمات عام المنفعه در این بخش به شمار می‌رود. گفتنی است که پیش از این ریاست فوایدعامه پکتیکا، در ساختمان‌های کرایی فعالیت می کرد و با تکمیل کار ساختمان جدید، اکنون کارهای این اداره سریع تر و منظم تر انجام خواهد شد.

نور د افغان ولس حوصله ...

نومونه یې د تاریخ په زرینو پاڼو کې ثبت کړي دي. د میرویس نیکه، احمدشاه بابا، نازو انا، ناهید، ملالۍ او نورو تاریخي شخصیتونو یادونه د همدې ویاړلي تاریخ څرګند مثالونه دي.

افغانان د جګړې غوښتونکي نه دي او نه د جګړې پیلوونکي دي، خو که څوک پر موږ برید وکړي، نو له خپل ولس او هېواده دفاع مو سالم حق دی. زموږ ولس د سولې، ثبات او متقابل درناوي پلوی دی. موږ باور لرو چې د دوو ګاوندیو او مسلمانو ملتونو ترمنځ شخړې باید د خبرو، تفاهم او متقابل احترام له لارې حل شي، خو په ورته وخت کې دا هم یو مسلم حقیقت دی چې هېڅ ملت نه شي کولای د خپل حاکمیت، عزت او ولسي امنیت پر وړاندې هر ډول تېری په چوپتیا وزغمي.

د سیمې دواړو لورو ته په کار ده چې د تاوتریخوالي او فشار پر ځای د ښه ګاونډیتوب، متقابل احترام او مسئولانه سیاست لاره خپله کړي. د بې‌ګناه خلکو مرګ ژوبله نه یوازې د انساني ارزښتونو خلاف عمل دی، بلکې د دواړو هېوادونو ترمنځ د بې‌باورۍ فضا نوره هم پراخولی شي. افغان ولس د صبر، زغم او حوصلې خاوند دی، خو د دې ملت حوصله باید د کمزورۍ په معنا تعبیر نه شي. افغانان د سولې غوښتونکي دي، خو د خپل عزت، خپلواکۍ او ملي ګټو ساتنه هم خپل مشروع حق ګڼي. کله چې هم کوم یرغلګر پر دې خاوره تجاوز کړی، نو د دې خاورې بچیو د عبرت درس ورکړی دی.

نن هم د تاریخ دا پاڼه لا ترل شوې نه ده. هر هغه څوک چې د زور، ګواښ او پوځي فشار له لارې د افغان ولس اراده ماتول غواړي، باید د تاریخ له درسونو عبرت واخلي. د افغانستان د خلکو زغم او حوصله باید ونه ازمویل شي او د دې ملت چوپتیا باید د کمزورۍ نښه ونه ګڼل شي. غوره لاره دا ده چې د دښمنۍ پر ځای د تفاهم، د فشار پر ځای د احترام او د جګړې پر ځای د سولې لاره غوره شي. که څوک بیا هم د تېري او یرغل سیاست ته دوام ورکوي، نو باید پوه شي چې افغان ولس د خپل وطن، خپل عزت او خپلواکۍ د ساتنې لپاره هر ډول قربانۍ ته چمتو دی او تاریخ شاهد دی چې د دې خاورې د ازادۍ اراده هېڅ ځواک نه ده ماته کړې.

قطر؛ هڅه کوو افغانستان او نړیواله ...

هېواد او افغانستان اړیکې تاریخي او ژورې وبللې او ویې ویل، چې قطر د منځګړي بهرني سیاست په چوکاټ کې د افغانستان او نړیوالې ټولنې ترمنځ د رغنده تعامل او اړیکو د پراختیا ملاتړ ته ژمن دی.

مسدود شدن ۱۹ دفتر متخلف رهنمای معاملات ...

کرده و از هرگونه فعالیت غیرقانونی خودداری کنند. منبع افزوده که این ریاست در همین مدت ۱۳۷ جواز جدید فعالیت برای متقاضیان رهنمای معاملات صادر کرده و ۷۱ جواز دیگر را نیز تمدید کرده‌است. این منبع همچنین می‌افزاید که در جریان ماه گذشته، برای ۲۰۸ مسئول دفاتر رهنمای معاملات برنامه‌های آموزشی درباره اصول واسطه‌گری معاملات و شیوه انجام معاملات برگزار شده و آموزش‌های لازم به آنان ارایه شده است.

په کابل کې د ښکلو هنرونو او صنایعو انسټیټوټ ...

دوام وکړي، چې پکې د ښکلو هنرونو او صنایعو انسټیټوټ د استادانو او زده‌کوونکو هنري آثار ننداري ته وړاندې شوي دي. د نندارتون د پرانیستې په مراسمو کې ویناوالو له اسلامي هنرونو څخه د ملاتړ پر اهمیت ټینګار وکړ. په همدې لړ کې د تخنیکي او مسلکي زده‌کړو اداري د تعلیمي نصاب رئیس، ډاکټر عارف عطایي، د قرآنکریم د آیتونو او نبوي احادیثو په رڼا کې وویل چې اسلامي او د شریعت مطابق هنر د اسلامي نظام له ملاتړ څخه برخمن دی او مشران ورته ځانګړې پاملرنه لري. نوموړي همدارنګه څرګنده کړه چې د نړۍ ستر تمدنونه د مسلمانانو د هڅو پایله ده او نن ورځ هم موږ باید د نړۍ د پرمختګ لپاره له ټولو زیاتې هڅې وکړو. همدارنګه د دې پروګرام په ترڅ کې د تخنیکي او مسلکي زده‌کړو اداري د ارشاد او دعوت رئیس، مفتي نجم‌الدین حقاني او د متعلمینو او محصلینو چارو رئیس، استاد رفیع‌الله حبیبي، د اسلامي هنرونو د اهمیت او ترویج په اړه خبرې وکړې. دوی وویل چې اسلامي نظام د اسلامي هنرونو د پیاوړتیا او ملاتړ لپاره ژمن دی. د نندارتون د پرانیستې مراسم د ښکلو هنرونو انسټیټوټ د ورزشي ځانګې د ورزشکارانو د نمایشي پروګرامونو په ترسره کېدو پای ته ورسېدل او ګډونوالو د انسټیټوټ له هنري آثارو څخه لیدنه وکړه. د یادونې وړ ده چې دغه نندارتون به د راتلونکې اوونۍ د چهارشنبه او پنجشنبه په ورځو هم دوام ولري.

لوګر کې پر ۲۰۰ جریبه ځمکه د بار وړونکو ...

د ۲۰ میلیونو افغانیو په لګښت پر ۲۰۰ جریبه ځمکه پلي کېږي. د یاد ولایت د کور او ښار جوړولو ریاست مطبوعاتي مسئول عبدالواحد مدقق ویلي چې تر دې دمه د دې تمځي عملي چارې ۱۰ سلنه بشپړې شوي او له دې بهیر څخه څارنه روانه ده. د نوموړي په وینا: د دې پروژې په بشپړېدو سره به د بار وړونکو موټرو د تنظیم لپاره لازمې اسانتیاوې برابرې او د لوګر - پکتیا پر لویه لاره به ګڼه‌ګوڼه را کمه شي. د یادونې وړ ده، چې د افغان مسئولینو له لوري د ښاري نظم او د ټرانسپورټي چارو د لا ښه مدیریت په موخه هڅې چټکې شوي چې عام خلک یې د یوه با مسئولیته حکومت له کړنو بولي.

د افغانستان اقتصاد د ثبات او تدریجي ...

تولید د زیاتېدو له امله راټیټې شوې دي. راپور د دولتي عوایدو په برخه کې هم پرمختګ ته اشاره کوي او وایي چې د عوایدو راټولول منظم شوي او په غیرمالیاتي عوایدو کې د پام وړ زیاتوالی راغلی دی، چې د مالي مدیریت د ښه کېدو نښه بلل کېږي. همداراز د افغانستان د صادراتو او وارداتو په برخه کې بدلونونه ثبت شوي، خو راپور ټینګار کوي چې د سوداګرۍ د تنظیم او د نویو ټرانزیټي لارو د پراختیا هڅې روانې دي. د ټوکرانو او ځینو کرنیزو محصولاتو په صادراتو کې هم د زیاتوالي نښې لیدل شوي دي. نړیوال بانک د افغانۍ د ارزښت په اړه ویلي چې ملي کرنسي په مې میاشت کې لا پیاوړې شوې او د تبادلې په بازار کې یې نسبي ثبات ساتلی دی، چې دا د مالي سیاستونو د کنټرول او د بازار د اړتیاوو د تعادل پایله بلل کېږي. په راپور کې د دولت د لګښتونو په برخه کې هم د بودجې د تطبیق له امله د پرمختګ یادونه شوې او ویل شوي، چې د پراختیایي او خدماتي برخو د لګښتونو زیاتوالی د دولتي ادارو د فعالیت د پراختیا نښه ده. نړیوال بانک په پای کې وایي چې که څه هم افغانستان د اقتصادي ثبات په لور حرکت کړی، خو د پراختیایي فرصتونو د زیاتولو، د تولیدي سکتور د ودې او د سوداګرۍ د لا پراختیا لپاره لا هم هڅو ته اړتیا شته.

کندهار کې د ځمکني ټرانسپورټ ښپړ ...

کندهار ښار څخه بهر د کندهار-کابل، کندهار-هرات او کندهار-سپین بولدک پر لویو لارو پلي کېږي. مسئولین زیاتوي چې د دغو پروژو په پلي کېدو سره به مسافرو او موټر چلوونکو ته ډېرې اسانتیاوې رامنځته شي. د ځمکني ټرانسپورټ د پلي کېدونکو پروژو د پراختیا انجنیر، ذبیح‌الله رحیمي ویلي: «دغه پروژې له کندهار ښار څخه بهر د کندهار- کابل، کندهار - هرات او کندهار- سپین بولدک ترمنځ پر لویو لارو د ځمکني ټرانسپورټ د تنظیم په موخه پلي کېږي، ګټه یې دا ده چې ګڼه‌ګوڼه به کمه شي او کندهار ښار به د معیاري ځمکنیو تاسیساتو څښتن شي.» د کندهار د ټرانسپورټ ریاست مرستیال ویلي: «موږ دغه پروژې له کندهار ښار څخه بهر ځکه پلان کړې، چې دلته شته ګڼه‌ګوڼه کمه او د غیرمعیاري ټرانسپورټي فعالیتونو مخه ونیول شي.» د دغو پروژو په پلي کېدو سره، د ټرانسپورټي نظام د غښتلتیا ترڅنګ، ګڼ شمېر ځوانانو ته د کار زمینه هم برابره شوې ده.

ساختمان جدید اداری ولسوالی نوبهار ...

برق آفتابی و سایر امکانات لازم می‌باشد. در مراسم افتتاح این ساختمان، مولوی لطف‌الرحمن سرحدی مسئول تأمینات مقام ولایت زابل، در صحبت‌هایش گفت که ادارۀ محلی زابل متعهد به رفع نیازهای ساختمانی ولسوالی‌هاست و در ولسوالی‌های مختلف ساختمان‌های جدید ساخته و برخی ساختمان‌های قدیمی را نیز بازسازی کرده است. او اضافه کرد که با تکمیل کار این پروژه در ولسوالی نوبهار، محیط کاری مناسب برای کارمندان اداری این ولسوالی فراهم شده و ارائۀ خدمات به مردم نیز آسان‌تر می‌شود. همچنان در این مراسم سخنرانان از کیفیت پروژه و تکمیل آن در زمان تعیین شده قدردانی کردند و آن را گام مهم در راستای تقویت اداره‌های دولتی و ارائۀ خدمات بهتر به مردم دانستند.

شریعت

د امارتي ورځپاڼو رئیس:
انجنیر عُزیر بریالی / ۰۲۰۲۵۲۶۳۴۰
مسئول مدیر: محمد منیر فاروقي / ۰۷۶۴۸۰۸۲۰۵
مسئول سکرتر: رفیع الله رؤفي/ ۰۷۹۵۰۰۰۳۱۰
ډیزاین: بصیر احمد امیري / ۰۷۹۲۶۰۹۰۶۲
د شریعت برښنا لیک: info@shariatdaily.com
پته: اتمه ناحیه، د المپیک څلور لارې، د حضوري چمن ختیځ، کابل ـ افغانستان
شماره توزیع و شکایات: ۰۲۰۲۳۱۲۵۰۹ / ۰۷۶۶۰۴۴۹۶۶/ ۰۷۳۱۶۰۶۰۷۳

Shariat

Published by
Islamic Emirate of Afghanistan
Eng, Uzair Baryaly ، Director of Gov.dailies
0202526340
Chief Editor : M. Munir Farooqi
Email: info@shariatdaily.com
ویب سایت: WWW.shariatdaily.com

Shariat Daily

Wednesday 01 July 2026 / Established: 1995 / 2nd Season / Vol: 1095

د ریاست الوزراء اداري مرستیال:

هڅه کوو د روغتیايي سکتور ټولې ستونزې حل کړو

د ریاست الوزراء اداري مرستیال مولوي عبدالسلام حنفي د سردار محمد داوود خان ۴۰۰ بستریز روغتون ډاکټرانو ته د طبابت خدمتونو د کیفیت لوړولو سیمینار کې ویلي: د طبابت د اخلاقو پیاوړتیا د ډاکټر او ناروغ ترمنځ د باور فضا او ښې اړیکې جوړولی شي. مولوي عبدالسلام حنفي ویلي: هېواد کې اوږدو جګړو، د طبي تجهیزاتو کمښت او د مسلکي بشري ځواک نشتوالي د طبابت پر اخلاقو او د روغتیایي خدمتونو پر کیفیت منفي اغېزې کړې دي. نوموړي د طبابت د اخلاقو پر رعایت ټینګار کړی او په خبره یې: اسلامي امارت هڅه کوي چې دې برخې ته لا ډېره پاملرنه وکړي. ده ډاډ ورکړ، چې حکومت به هېواد کې د روغتیایي سکټور ټولې اړینې اړتیاوې په تدریجي ډول پوره کړي.

د افغانستان او چین ترمنځ د اقتصادي همکاریو هوکړه‌لیک لاسلیک شو

د افغانستان د سوداګرۍ او پانګونې خونې ویلي چې د چین د یانګژو د اقتصادي او پرمختللې ټکنالوژۍ زون ته د رسمي سفر پر مهال د دواړو لورو ترمنځ د اقتصادي او سوداګریزو همکاریو د پراختیا لپاره د ګډې همکارۍ هوکړه‌لیک لاسلیک شوی دی. د یادې خونې د مسئولینو په وینا، دغه هوکړه‌لیک د افغانستان او چین ترمنځ د اقتصادي **...۳مخ**

افزایش چشمگیر انتقالات از طریق خطوط آهن کشور طی ماه گذشته

از آغاز الی ختم ماه جوزای سال ۱۴۰۵هـ.ش. از طریق خطوط آهن وزارت فواید عامه افغانستان ۷۹۷هزار و۴۸۲ متریک تُن انتقالات صورت گرفته است. در این میان از طریق بندر حیرتان ۵۳۸۸۸۹ متریک تُن، بندر آقینه ۷۵۷۲۲ متریک تُن، بندر تورغوندی ۷۷۰۰۸ متریک تُن و مسیر خط آهن خواف ـ هرات ۱۰۵۸۶۳ متریک تُن و مجموعاً ۷۹۷هزار و۴۸۲ متریک تُن انتقالات صورت گرفته است. که شامل اموال نفتی، غیر نفتی و سایر مواد می‌شود، به کشور وارد و صادر شده است. در مجموع انتقالات که یک بخش آن صادرات می باشد، در ماه جوزا ۲۵۱۷ تُن اموال تجارتی صادر شده است. هر چه میزان انتقالات و صادرات از طریق خط آهن افزایش می یابد، فرصت های شغلی بیشتری فراهم می شود، عواید ملی افزایش می یابد و راه به سوی ثبات **...ص۳**

نړیوال بانک:

د افغانستان اقتصاد د ثبات او تدریجي ودې په لور روان دی

نړیوال بانک په خپل تازه راپور کې ویلي چې د اسلامي امارت له بیا واکمنېدو راهیسې د افغانستان اقتصاد د تدریجي رغېدو په حال کې دی او په بېلابېلو برخو کې د ثبات نښې لیدل کېږي. د راپور له مخې، د کورني بازار نسبي ثبات، د افغانیو د ارزښت ښه‌والی، د دولت د عوایدو منظم راټولول او د انفلاسیون کمېدل د وروستیو اقتصادي پرمختګونو مهمې نښې بلل شوي دي. همداراز په مې میاشت کې د مصرفي توکو بیې ۱.۲ سلنه راټیټې شوې او کلنی انفلاسیون له ۸.۶ سلنې څخه ۸ سلنې ته راکم شوی دی، چې دا د بازار د نسبي ثبات ښکارندویي کوي. نړیوال بانک زیاتوي چې د خوراکي توکو بیې په ځانګړي ډول د سبزیجاتو او ځینو اساسي توکو په برخه کې د ښې رسېدنې او د کورني **...۳مخ**

کندهار کې د ځمکني ټرانسپورټ ښېرازه پروژې پلې کېږي

د کندهار د ټرانسپورټ ریاست مسئولینو ویلي: د روان ۱۴۰۵ لمریز کال تر پایه به په دغه ولایت کې د ۱.۵ میلیاردو افغانیو په ارزښت د باروړونکو او مسافروړونکو موټرو لپاره نوي ترمینلونه او د سیمې د هېوادونو د سوداګریزو موټرو لپاره مجهز تمځایونه جوړ شي. د کندهار د ټرانسپورټ ریاست مرستیال، عصمت‌الله عاصم په دې اړه ویلي: «ښېرازه پروژې، چې د مسافروړونکو او باروړونکو موټرو ترمینلونه، دوه تیرپارکونه او ښار ته د داخلېدو برېښنایي دروازې په کې شاملې دي، د سږ کال تر پایه بشپړېږي او ۱.۵ میلیارده افغانۍ لګښت پرې راځي.» د ځمکني ټرانسپورټ دغه ښېرازه لویې پروژې له **...۳مخ**

ساختمان جدید اداری ولسوالی نوبهار زابل به بهره‌برداری سپرده شد

ساختمان جدید اداری ولسوالی نوبهار زابل با هزینه بیش‌از ۶ میلیون افغانی ساخته و افتتاح شد. ساختمان جدید اداری ولسوالی نوبهار، با هزینه ۶میلیون و ۵۰۰ هزار افغانی، در ۲ طبقه در مدت یک سال ساخته شده است. همچنان این ساختمان دارای ۵ اتاق، سیستم آب **...۳مخ**

۳۵۰۰ روږدي کسان له فني او حرفوي زده کړو فارغ شوي

شریعت: د کار او ټولنیزو چارو وزارت اړوند پر نشه‌یي توکو د روږدو کسانو د ملاتړ او درملنې د ۵۰۰۰ بستریز (آغوش) مرکز مسئولین وایي، چې په تېرو شپږو دورو کې ۳۵۰۰ روږدو کسانو ته فني او حرفوي زده کړې ورکړل شوې او ډېر یې دا مهال په کار بوخت دي. د یاد مرکز د فني او حرفوي زده کړو آمر، عزت‌الله رحمت، شریعت ورځپاڼې ته وویل: «په تېرو شپږو دورو کې ۳۵۰۰ روږدو کسانو ته د خیاطۍ، بیک جوړونې، بوټ جوړونې، د ودانیو د برېښنا لین غځولو او د برېښنایي وسایلو د ترمیم په برخو کې عملي او نظري زده کړې ورکړل شوې دي.» نوموړي زیاته کړه: «دا مهال ۳۱۲ روږدي کسان په پنځو حرفو کې په فني او حرفوي زده کړو بوخت دي.» د ده په وینا: «له دې ډلې ۷۲ تنه **...۳مخ**



تلفات زلزله‌های اخیر در ونزویلا به ۱۷۱۹ تن رسید

رسانه‌های بین‌المللی گزارش داده‌اند که شمار جان‌باختگان زمین‌لرزه‌های اخیر در ونزویلا به ۱۷۱۹ تن رسیده و ۵۰۳۴ تن دیگر نیز زخمی شده‌اند. همزمان، اداره ملی هوانوردی و فضایی امریکا (ناسا) بر اساس ارزیابی‌های خود اعلام کرده که نزدیک به ۵۹ هزار ساختمان در اثر این زمین‌لرزه‌ها آسیب دیده یا به‌طور کامل ویران شده‌اند. از سوی دیگر، خورخه رودریگز، رئیس مجلس ملی ونزویلا، گفته که برق ۹۰ درصد مناطق آسیب‌دیده دوباره وصل شده و ۱۵ کمپ موقت برای اسکان بی‌خانمان‌ها ایجاد شده است. وی همچنین افزوده که عملیات جستجو و نجات همچنان ادامه دارد و نیروهای امدادی روز گذشته چندین نفر را زنده از زیر آوار ساختمان‌های تخریب‌شده نجات داده‌اند.

تحلیلگر امریکایی:

ترامپ در مقابل ایران ناکام ماند

یک تحلیلگر امریکایی، مالک دوداکوف، در تحلیلی برای نشریه «اوراسیا دیلی» نوشته است که سیاست دولت دونالد ترامپ در قبال ایران به بن‌بست رسیده و تلاش‌های واشنگتن برای وادار کردن تهران به عقب‌نشینی نتیجه‌ای نداشته است. وی افزوده که امریکا پس از ناکامی در این راهبرد، ناگزیر به بازنگری در آرایش نظامی خود در منطقه شده است. به گفته او، افکار عمومی امریکا نیز از درگیری با ایران حمایت نمی‌کند و توان بازدارندگی ایران، محاسبات نظامی واشنگتن را با چالش روبه‌رو ساخته است.

په یوه برید کې د سپاه‌پاسداران دوه غړي وژل شوي

ایراني رسنیو راپور ورکړی، چې د دغه هېواد په کرمانشاه ولایت کې په یوه برید کې د سپاه‌پاسداران دوه غړي وژل شوي دي. ایراني چارواکو ویلي، د بریدګرو د نیولو لپاره پلټنې روانې دي. د برید مسئولیت کومې ډلې پر غاړه نه‌دی اخیستی.

پزشکیان: د امریکا د ژمنتیا په صورت کې به هوکړه عملي کړو

د ایران ولسمشر مسعود پزشکیان ویلي، چې د هېوادونو ترمنځ هر ډول هوکړه دوه‌اړخیزه ده او که امریکایي لورې خپلو ژمنو ته وفادار پاتې شي، ایران به هم د هوکړه‌لیک پر موادو عمل وکړي. پزشکیان په خپله ایکس‌پاڼه کې لیکلي: «تفاهم یو دوه‌اړخیز اصل دی. که امریکایي لورې هوکړه‌لیک ته ژمن پاتې شي، موږ به هم پر خپلو ژمنو عمل وکړو.» د ایران ولسمشر زیاته کړې، چې د «نامعقولو غوښتنو او بې‌بنسټه ګواښونو» پر وړاندې د تهران تګلاره د عقلانیت او انساني کرامت پر بنسټ ولاړه ده او که اړتیا پېښه شي، ایران به له خپلو ملي ګټو څخه په قاطعیت دفاع وکړي.